مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۵۳** (از ۲۹ ثور الی ۵ جوزا ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### د امریکا-روسيې سړه جګړه او پر افغان قضيه يې اغېزې

واشنګټن-مسکو نوې سړه جګړه ........ ۴
د روسيې نوی دريځ څه معنا؟ ........ ۵
پر افغان جګړه يې اغېزې........ ۷

### شورای ملی و قضیۀ فساد اداری در افغانستان

شورای ملی و صلاحیت‌های آن ........ ۹
نقش شورای ملی در گسترش فساد ........ ۱۰
چرا شورای ملی بخشی از فساد است؟........ ۱۲

## مقدمه

له تېرو څو کلونو راهیسې امریکا او روسیه په نړیوالو قضیو کې سره مخ دي او د سړې جګړې د دوران په څېر اوس هم د سیمې او نړۍ په کچه یوه بله سړه جګړه روانه ده. له همدې کبله زموږ په سیمه کې هم د نړۍ د سترو قدرتونو ترمنځ سیالي روانه ده او افغانستان له دغه وضعیت څخه نېغ په نېغه اغېزمن دی.

د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي له تېرو دوو کلونو راهیسې څو ځله په افغانستان کې د امریکا د تګلارې په اړه توندې نیوکې کړې دي، چې په دوام یې تېره اوونۍ هم یو ځل بیا د افغان قضیې په تړاو د تېر په پرتله متفاوت او نوی نظر څرګند کړ. دا چې د امریکا او روسیې ترمنځ اوسمهال څه ډول سړه جګړه روانه ده او په دې منځ کې د افغانستان دریځ او ځای څه دی؟ هغه پوښتنې دي، چې د ورته پوښتنو ترڅنګ یې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې د ځوابولو هڅه شوې ده.

د تحلیل دویمه برخه مو بیا په افغانستان کې د اداري فساد قضیې اړوند د ملي شورا رول او د فساد په قضیو کې ښکېلتیا ته ځانګړې کړې ده. تېره اوونۍ یوناما په افغانستان کې د فساد په اړه خپل کلنی راپور خپور کړ، چې له فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان د ملي شورا پر رول سخته نیوکه پهکې شوې ده. د تحلیل په دې برخه کې، په ملي شورا او په تېره بیا ولسي جرګه کې د اداري فساد د قضیو او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه شننه لولئ.

# د امریکا–روسیې سړه جګړه او پر افغان قضیه یې اغېزې



**حکمت الله ځلاند** / د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

له ۲۰۱۴ کال راوروسته د اوکراین د بحران په څېر نړیوالې قضیې د روسیې او لوېدیځ ترمنځ د نوې سړې جګړې پیېښې وبلل شوې او تېرو څو کلونو په ډاګه کړه، چې د واشنګټن او مسکو ترمنځ «نوې سړه جګړه» روانه ده او اغېزې یې نېغ په نېغه افغانستان ته هم راغځېدلې دي.

د دغې سړې جګړې له پیلېدو سره روسانو افغانستان ته پام زیات کړ او له همدې کبله روسي چارواکو په تېرو څو کلونو کې د افغانستان د قضیې په اړه وخت ناوخت د خپل دریځ بیانولو له لارې، په افغانستان کې د خپلې ښکېلتیا د زیاتولو هڅه کړې. تېره اونۍ هم، د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف د افغان سولې او جګړې په تړاو، د روسانو د تېرو څرګندونو او دریځونو خلاف نوی دریځ بیان کړ. د نوموړي په وینا «امریکا باید له طالبانو سره د روغې جوړې خبرو ته کېني، کنه د یوې بې‌پایه جګړې لپاره دې تیاره شي».

په تېرو څو میاشتو کې د افغان جګړې په تړاو د روسانو او په افغانستان کې مېشتو امریکایي او ناټو ځواکونو ترمنځ هم نانددرۍ زیاتې شوې دي. په ځانګړې توګه له افغان طالبانو سره د روسیې د پوځي مرستو خبره په نړیواله کچه شاربل کېږي.

دا چې د امریکا – روسیې ترمنځ نوې سړه جګړه څه ډول پیل او افغانستان ته راوغځېده؟ د افغان قضیې په اړه د روسیې د دریځ اوسنی بدلون څه لاملونه لري؟ او د افغانستان پر وضعیت د دغې سړې جګړې اغېزې څه دي؟ دلته مو هڅه کړې، دا او ورته پوښتنې ځواب کړو.

## واشنګټن-مسکو نوې سړه جګړه

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته او په ځانګړې توګه له ۱۹۴۷ کال وروسته د شوروي او لوېدیځ ترمنځ، «لومړۍ» سړه جګړه پیل شوه، چې له مخې یې د ختیځ بلاک او لوېدیځ بلاک هېوادونو (د کمونېزم او پانګوال نظام) ترمنځ سیالي روانه وه. دې سړې جګړې په ۱۹۴۹ کال د امریکا او اورپا لهخوا د نړۍ تر ټولو ستر نظامي تړون (ناټو سازمان جوړېدو) ته هم لاره پرانیستله. بالآخره په افغانستان کې د شورویانو له ماتې او وتلو دوه کاله وروسته، په ۱۹۹۱ کال کې شوروي اتحاد هم وپاشل شو او نړیواله سړه جګړه پای ته ورسېده.

د ۲۱مې پېړۍ د پیل په کلونو کې یو ځل بیا د ختیزې اروپا او منځنۍ اسیا په ځینو هېوادونو کې د روسیې او لوېدیځ ترمنځ اختلافاتو سر راپورته کړ. په جورجیا کې د ۲۰۰۳ کال په ټاکنو کې لوېدیځ پلوی حکومت جوړ شو، چې له کبله یې روسیې په ۲۰۰۸ کال کې پر دغه هېواد یرغل وکړ او په پایله کې یې د ابخازیې سیمه له جورجیا جلا شوه. له ۲۰۰۴ تر ۲۰۱۴ کال پورې په اوکراین کې څلور ځله جنجالي ټاکنې او پاڅونونه هم د روسیې او لوېدیځ ترمنځ د اختلافاتو پایله وه، چې بالاخره د روسیې یرغل ته لاره پرانېستل شوه او په پایله کې یې د کریمیا روس‌نژاده سیمه د یوه رفرانډم له لارې د روسیې برخه وګرځېده. په همدغو کلونو کې د روسیې او امریکا نړیوالو اختلافاتو ته د «نوې سړې جګړې» نوم ورکړل شو. د دوی ترمنځ دا سړه جګړه بیا د سوریې په خونړۍ قضیه کې تر ټولو جدي پړاو ته داخله شوه، چې له مخې یې روسان د امریکا په مقابل کې له ایران او په سوریه کې له ایران‌پلوي رژیم څخه پوځي ملاتړ کوي.

افغانستان هم هغه هېواد دی، چې له یوې خوا د امریکا او روسیې د نړیوالو شخړو او له بلې خوا په افغانستان کې دننه تحولاتو له کبله، دا سړه جګړه دغه هېواد ته هم راوغځېده. سره له دې چې روسیې له ۲۰۰۱ کال وروسته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له پرېکړې سره سم، په افغانستان کې د امریکا او ناټو له اقداماتو ملاتړ او ورسره همکاري کوله؛ خو په لومړي ځل روسیې افغانستان ته له خپلې خاورې تېره شوې د ناټو اکمالاتي لاره د ۲۰۱۵ کال په مې میاشت کې بنده کړه[1] او په دې توګه د دواړو هېوادونو سړه جګړه افغانستان ته هم راولېږدېده.

په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې د «اسلامي دولت» ډلې د خراسان شاخې د فعالیتونو له پیل او پراختیا سره د روسیې وېره زیاته شوه او ډېر ځله یې امریکایان د دغې ډلې تر شا په لاس لرلو تورن کړل. همدا لامل و، چې له طالبانو سره یې هم اړیکو جوړولو ته مخه کړه او د ۲۰۱٦ کال په وروستیو کې یې په مسکو کې له چین او پاکستان سره یو ځای د افغانستان په تړاو درې اړخیزه غونډه جوړه کړه. په دې توګه روسیه اوسمهال «له طالبانوسره اړیکې» له امریکا سره په نوې سړه جګړه کې د فشار آلې په توګه کاروي.

## د روسیې نوی دریځ څه معنا؟

د امریکا او روسیې ترمنځ د سړې جګړې یوه برخه له طالبانو سره د روسیې اړیکې دي، چې د افغان طالبانو او روسیې ترمنځ پخوانۍ دښمنۍ ته په کتلو سره تر ډېره غیرطبیعي هم برېښي؛ خو دواړو لورو له خپلو اړتیاوو سره سم ورته مخه کړې او منلې یې هم دي.[2] طالبان له روسیې سره خپلې اړیکې، د سیمې او نړۍ په کچه مهمو هېوادونو لهخوا د دغې ډلې په رسمیت پېژندل ګڼي؛ خو روسیه بیا له طالبانو سره خپلې اړیکې بل ډول توجیه کوي. روسیې تراوسه له طالبانو سره خپلې اړیکې په لاندې مواردو توجیه کړې دي:

- په افغانستان کې د اسلامي دولت ډلې له پراختیا وېره؛
- په افغانستان کې د روسي دیپلوماتانو خوندیتوب؛
- له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د طالبانو په چمتو کولو کې مرسته.

[1] The Moscow times, Russia Closes NATO’s Transport Corridor to Afghanistan, May 18 2015, see online: https://themoscowtimes.com/articles/russia-closes-natos-transport-corridor-to-afghanistan-46633
[2] Thalil Journal of CSRS, Close ties between Russia, Iran and the Taliban, by Dr. Misbahullah, Sep 2017, Page 35.

د وروستي دليل په تړاو د ضمير کابلوف له وروستيو څرګندونو سره په ښکاره د روسيې په دريځ کې بدلون وليدل شو او په دې توګه روسيې د طالبانو همېشنی دريځ او غوښتنه تاييد کړه. د کابل پروسې له دويمې غونډې يوه ورځ مخکې افغان طالبانو د امريکا کانګرېس او خلکو ته په خپل ليک[3] کې له امريکا څخه د مخامخ خبرو غوښتنه کړې وه، کوم څه چې په ۲۰۱۳ کال کې امريکا له دغې ډلې سره منلي وو او له کبله يې په قطر کې د طالبانو لپاره سياسي دفتر پرانېستل شو.

که د کابلوف وروستيو څرګندونو ته وکتل شي، له يوې خوا پر امريکا د روسيې د فشار او په افغان قضيه کې د خپلې ښکېلتيا زياتولو ښکارندويي کوي، څکه نوموړي امريکايانو ته د پېغور په توګه ويلي، چې امريکا دې هم له روسيې زده کړې او خپله ماتې دې ومني؛ خو له بلې خوا بيا د نوموړي څرګندونې ځينو حقيقتونو ته هم اشاره کوي.

روسيه اوسمهال د افغانستان له حالاتو په وېره کې ده. له يوې خوا د افغانستان په شمال کې ناامنۍ او په تېره بيا د اسلامي دولت ډلې د جنګياليو فعاليت پراخ شوی او له بلې خوا د افغان حکومت او د ملګرو ملتونو له جرمونو او نشه‌يي توکو سره د مبارزې اداري (UNODC) د وروستي راپور له مخې، د نشه‌يي توکو کښت او توليد تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلی. د تېر ۲۰۱٦ کال په پرتله په ۲۰۱۷ کال کې د کوکنارو کښت ٦۳ سلنه او د ترياکو توليد ۸۷ سلنه زيات شوی[4]، په داسې حال کې چې د افغان چارواکو له قوله، امريکا سږ کال د کوکنارو د کښت له منځه وړلو لپاره پيسې نه ورکوي.[5] د نشه‌يي توکو د توليد او قاچاق زياتوالی هغه قضيه ده چې روسان يې د دوی پرضد د ترياکو جګړه بولي او له همدې کبله په ۲۰۱۱ کال کې امريکايانو د روسانو د اندېښنو کمولو لپاره هغوی ته په ننګرهار کې د نشه‌يي توکو پرضد عملياتو کې ونډه ورکړه.

د روسيې زياتېدونکې وېرې ته په کتلو سره، ښايي روسيه دې پايلې ته رسېدلې وي چې د افغانستان د سولې بهير د بريا او په دغه هېواد کې د ثبات او امنيت د ټينګښت لپاره بايد امريکايان له طالبانو سره خبرې وکړي او له افغانستانه د وتلو مهالوېش د خبرو مېز ته راوړي. څکه تېرې ۱۷ کلنې جګړې، د طالبانو وروستيو دريځونو او د افغان حکومت د سولې وړانديز بې‌ځوابه کېدو ثابته کړه، چې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو د راتلونکي حضور په تړاو ابهام د سولې بهير د ناکامۍ اصلي لامل دی. څکه نو د ټرمپ له نوې تګلارې سره سم، د

[3] The Guardian, Taliban publish letter calling on US to start Afghan peace talks, 14 Feb 2018, see online: https://www.theguardian.com/world/2018/feb/14/taliban-publish-letter-calling-us-start-afghan-peace-talks
[4] UNODC, The Afghanistan Opium Survey Release, 21 May 2018, see online: http://www.unodc.org/afghanistan/en/frontpage/2015/the-afghanistan-opium-survey-was-released.html
[5] BBC Pashto, see online: http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-44109330

امریکایي ځواکونو د حضور او وتلو د مهالوېش نه روښانتیا روانه جګړه نوره هم غځولی شي، کوم څه چې افغان حکومت یې په اړه تصمیم نه شي نیولی.

## پر افغان جګړه یې اغېزې

په داسې حال کې چې افغانستان په خورا بد سیاسي او امنیتي وضعیت کې دی او خپله د افغان ولسمشر په وینا، د امریکا او لوېدیځ له پوځي او مالي ملاتړ پرته به یې حکومت دوام ونه شي کړای، افغان حکومت به په اوسني وخت کې د روسیې په مقابل کې د امریکا په تله کې ودرېږي. له همدې کبله، ولسمشر غني د افغان حکومت د جګ‌پوړي چارواکي په توګه د ۲۰۱۷ کال په وروستیو کې په پکتیکا ولایت کې له یوه خونړي برید وروسته، د لومړي ځل لپاره روسان طالبانو ته د وسلو په ورکړې تورن کړل.

اوس له یوې خوا روسیې د افغان حکومت د خوښې خلاف دریځ نیولی، ځکه افغان حکومت غواړي طالبان بین‌الافغاني خبرو اترو ته اړباسي؛ له بلې خوا یې له امریکا سره د زور ازمویلو بهیر د سختېدو ښکارندویي هم کوي. که څه هم روسیې او طالبانو د پوځي همکاریو تور نه دی منلی؛ خو دا دریځ ښیي چې که امریکا د جګړې د پای ته رسولو لپاره اقدام نه کوي، روسان به امریکایانو ته د دغې جګړې د لا ډېر سختولو تابیا وکړي. روسیې څو میاشتې وړاندې ګواښ کړی و، چې که امریکا او افغان حکومت د «اسلامي دولت» ډلې په ځپلو کې پاتې راشي، روسیه به په افغانستان کې پوځي اقدام وکړي. د روسیې د پوځي اقدام یوه بڼه ښایي له طالبانو سره پوځي مرستې وبلل شي؛ ځکه طالبان عملا له دغې ډلې سره په جګړه کې ښکېل دي.

په یوه اړخ کې، که د روسیې نوی دریځ د افغان سولې په اړه د رښتینو هڅو لپاره پر امریکا فشار ګڼل کېدای شي؛ خو په بل اړخ کې بیا په افغانستان کې د دواړو زبرځواکونو مخامخ کېدل او لا ډېر زور ازمویلو معنا هم لري، کوم څه چې د افغان جګړې د لا خونړي کېدو او اوږدېدو تصویر له ځان سره لري. د افغانستان په ګټه ده، چې د امریکا او روسیې او نورو سیمه‌ییزو ځواکونو ترمنځ په اختلافاتو کې بې‌پلوه پاتې شي او دغه اختلافات داسې مدیریت کړي، چې په افغانستان کې د نیابتي جګړو پر ځای یې هبواد ته ګټه ورسېږي او د هغوی ګټې دلته همغږې شي. پای

# شورای ملی و قضیۀ فساد اداری در افغانستان



**ضیاءالاسلام شیرانی** / مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) در گزارش تازه‌ی خود تحت عنوان «مبارزۀ افغانستان علیه فساد؛ از استراتیژی تا تطبیق» شورای ملی افغانستان را شدیدا مورد انتقاد قرار داده است. این گزارش که چند روز پیش به نشر رسید، قضیۀ مبارزه با فساد اداری در افغانستان را در طول یک سال گذشته (از جنوری ۲۰۱۷ الی اپریل ۲۰۱۸م) مورد بررسی قرار داده است.

این گزارش می‌نگارد که «فساد در افغانستان عظیم، غیر انسانی و بی‌شرمانه است، مردم افغانستان مجبور اند تا تقریباً در تمام عرصه‌های زنده‌گی روزمرۀ شان رشوه بپردازند و از عدم مساوات در فرصت‌های اقتصادی و شغلی بدلیل موجودیت خویش‌خوری و واسطه‌بازی گسترده رنج می‌برند.» گزارش می‌افزاید که این وضعیت اعتماد مردم را نسبت به نهادهای دولتی از بین برده و پیگیری اهدافی چون ثبات سیاسی، آماده‌گی برای انتخابات و روند صلح را با موانعی روبه‌رو کرده است.

یوناما در این گزارش، از برخی اقدامات حکومت، قوهٔ قضائیه و جامعهٔ مدنی در راستای مبارزه با فساد اداری استقبال کرده است؛ اما در جانب دیگر نگاشته است که قوهٔ مقننه (شورای ملی) دولت افغانستان نه تنها کاری برای مبارزه با فساد اداری نکرده، بلکه بخش از مشکل فساد نیز بوده است.[6]

جایگاه شورای ملی و صلاحیت‌های آن، قضایای فساد اداری در شورای ملی، نقش این نهاد در گسترش فساد اداری و عوامل موجودیت فساد در آن، موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## شورای ملی و صلاحیت‌های آن

شورای ملی یا قوهٔ مقننهٔ دولت افغانستان که از دو مجلس (ولسی جرگه و مشرانو جرگه) تشکیل شده است، از عالی‌ترین ارگان تقنینی، مظهر ارادهٔ مردم و ملت افغانستان می‌باشد.

بر اساس قانون اساسی افغانستان، شورای ملی صلاحیت‌های تصویب، تعدیل یا لغو قوانین و فرمان‌های تقنینی، تصویب برنامه های انکشافی اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی، تصویب بودجهٔ دولتی و اجازهٔ اخذ یا اعطای قرضه و تصدیق معاهدات بین‌المللی را دارا می‌باشد. قانون اساسی همچنان بطور خاص صلاحیت تأیید تعینات در وزارت‌خانه‌ها، استیضاح وزیران و سلب صلاحیت آن‌ها از طریق دادن رای اعتماد و یا عدم اعتماد، به ولسی جرگه داده است.

شورای ملی، در کنار مسوولیت نظارت بر کارکردهای حکومت و این همه صلاحیت‌ها، در کنار سایر ارگان‌های دولت افغانستان، مسوولیت بزرگ مبارزه با فساد اداری را نیز دارا می‌باشد؛ اما "فساد" کلمهٔ است که با گرفتن اسم شورای ملی در چند سال اخیر به شکل پسوند با آن یکجا یاد می‌شود.

در وضعیت جاری با توجه به وضعیت خراب امنیتی، افزایش فقر و بی کاری، موجودیت فساد گسترده، فرار جوانان از کشور، بی‌ثباتی سیاسی، تلاش‌های اختلافات قومی و مذهبی و ده‌ها مورد دیگر که زنده‌گی روزمرهٔ افغان‌ها را زیر سایهٔ خود قرار داده است، شورای ملی به حیث خانهٔ ملت و مدافع حقوق آن‌ها مسوولیت دارد که برای از بین بردن این همه چالش‌ها تلاش ورزد؛ ولی بربنیاد اظهارات برخی مقام‌های حکومتی و گزارش‌های تحقیقی نهادهای ملی و بین‌المللی، شورای ملی افغانستان بالعکس خود درگیر فساد می‌باشد.

---

[6] UNAMA: "Afghanistan's Fight against Corruption: From Strategies to Implementation (May 2018)": https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistans_fight_against_corruption_from_strategies_to_implementation-14_may_2018.pdf

گزارش اخیر سازمان ملل متحد مهر تصدیق تازه در رابطه به موجودیت فساد گسترده در شورای ملی افغانستان است که در آن شورای ملی مورد انتقاد قرار گرفته و گفته شده که این ارگان در راستای اجراء اصلاحات و مبارزه علیه فساد اداری و نیز در تقویت حسابدهی داخلی و آوردن شفافیت در آن، کاری انجام نداده است.

## نقش شورای ملی در گسترش فساد

فساد اداری در کنار سایر مشکلات و چالش‌ها از جمله مهم‌ترین مشکلات افغانستان به شمار می‌رود که در طول چند سال گذشته با وجود تعهدات مکرر حکومت افغانستان در خصوص مبارزۀ جدی با فساد، افغانستان هنوز هم در ردۀ فاسدترین کشورهای جهان قرار دارد. بر اساس گزارش اخیر سازمان شفافیت بین‌الملل، افغانستان از نظر فساد در بخش دولتی در میان ۱۸۰ کشور جهان پس از سومالیا، سودان و سوریه با داشتن ۱۵ امتیاز چهارمین کشور فاسد جهان است.[7]

در کنار دیگر ارگان‌های دولت افغانستان، شورای ملی بخصوص ولسی جرگه یکی از ارگان‌هایی است که در گسترش فساد نقش داشته است. دادن رای اعتماد به وزرای کابینه در بدل امتیازات مختلف، قانون‌شکنی، عدم پابندی به نظم عامه و غیره از جمله مواردی اند که اعضای شورای ملی بر آن متهم اند.

به عنوان مثال، ولسی جرگه به تاریخ ۲۳ ثور ۱۳۹۲هـ ش عمر زاخیلوال وزیر پیشین مالیه را پیرامون وضعیت وزارت مالیه و مشکلات مالی موجود در آن وزارت، به ولسی جرگه استیضاح کرده بود. با آن که ولسی جرگه وزیر مالیه را به دلیل ادعاهای فساد علیه او استیضاح کرده بود؛ اما وزیر مالیه برعکس از قضایای فساد اعضای ولسی جرگه پرده برداشت. زاخیلوال از تربیون ولسی جرگه گفت که «بر اساس تحقیقات وزارت مالیه لالی حمیدزی، متهم به قاچاق مشروبات الکولی و موتر، سمیع الله صمیم متهم به قاچان نفت و مشروبات الکولی، ظاهر قدیر متهم به قاچاق آرد و درخواست غیر قانونی پول، عارف رحمانی متهم به درخواست دریافت قرارداد و پول، محمود خان سلیمان خیل متهم به قاچاق کالا و اعمال فشار و محمد عظیم محسینی متهم به درخواست مسکن غیر قانونی می‌باشد.»[8]

---

[7] See it online: https://www.transparency.org/news/feature/corruption_perceptions_index_2017

[8] دویچه ویله، «نام نمایندگان متهم به دست داشتن در قاچاق افشا شد»، ۱۳ می ۲۰۱۳م:http://www.dw.com/fa-af/a-16808934

عبدالباری جهانی، وزیر پیشین اطلاعات و فرهنگ یکی دیگر از اعضای کابینۀ حکومت افغانستان می‌باشد که در یک نوشتۀ خود، اعضای ولسی جرگه را به گرفتن پول از نامزد وزیران متهم کرده بود. جهانی در نوشتۀ خود گفته بود که «حدود دو سال پیش (ماه فبروی ۲۰۱۵م) ظاهر قدیر در یک مهمانی به او و نامزد وزیران دیگر حکومت گفت که برای گرفتن رای اعتماد از ولسی جرگه، باید به هر عضو مجلس پنج تا ده هزار دالر بپردازند.»[9]

به ادامۀ افشاگری‌ها از قضایای پنهان فساد در شورای ملی در اواخر ماه سنبله سال ۱۳۹٦هـ ش گزارش‌های به نشر رسید که از اختلاس میلیون‌های افغانی در بودجۀ ولسی جرگه و وجود بیشتر از دو صد مامور خیالی پرده برداشت. بر اساس این گز ارش از جمع ۳۷۰ تن کارمند دارالانشای ولسی جرگه ۲۱۷ تن آنان خیالی بودند و از این بابت ماهانه حدود چهار میلیون افغانی حیف و میل شده است. در این میان عبدالروف ابراهیمی رئیس ولسی جرگه متهم بود که از بودجۀ شورای ملی حدود بیش از پنج میلیون افغانی را مصرف بازسازی منزل شخصی‌اش کرده است.[10]

علاوه بر قضایای فساد مالی، برخی از اعضای شورای ملی در قانون‌شکنی و برهم زدن نظم عامه، فشار آوردن بر ارگان‌های خدمات عامه برای کارهای شخصی، استفاده از وسایط ثبت‌ناشده و بدون نمبر پلیت از جمله موارد دیگری اند که برخی اعضای شورای ملی بر آن متهم اند. در کنار این، برخی اعضای شورای ملی با استفاده از جایگاه و قدرت خویش، در موارد غصب زمین نیز دست دارند.

گاه‌گاهی حتی در رابطه به اعضای شورای ملی خبرهای تکان دهنده‌ی قضایای ناموسی نیز به نشر می‌رسد. به گونۀ مثال در یک مورد چند ماه پیش، یافته‌های خبرگزاری پژواک نشان می‌دهد که معاون دوم مجلس سنای افغانستان تلاش کرده با یک زن شوهردار عروسی نماید.[11]

[9] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، «د حکومتي بستونو خرڅلاو؛ د اداری فساد ناویل شوي کیسه»، ۲۴ سرطان ۱۳۹٦هـ ش:
http://csrskabul.com/pa/?p=3659

[10] رادیو آزادی: "شماری اعضای ولسی جرگه: عبدالروف ابراهیمی از سمت‌اش کنار زده شود"، اول میزان ۱۳۹٦ هـ ش:
https://da.azadiradio.com/a/28752692.html

[11] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، «زن افغان؛ قربانی افراط و تفریط»، ۲٦ حوت ۱۳۹٦هـ ش: http://csrskabul.com/pa/?p=4164

## چرا شورای ملی بخشی از فساد است؟

متعهد بودن به منافع ملی کشور، آگاهی از سیاست و اصول آن، داشتن استقلال فکر و نظر، شناخت کامل از مردم و جامعهٔ خود، داشتن تعلیم و سواد کافی، داشتن جرأت انتقاد و داشتن صداقت و امانتداری از مواردی اند که یک عضو شورای ملی بحیث نمایندهٔ مردم باید داشته باشد؛ در حالیکه برخی اعضای شورای ملی کنونی از چنین اوصافی برخوردار نیستند و به همین دلیل، شورای ملی افغانستان به عنوان یک ارگان فاسد شناخته می‌شود.

عدم حضور اعضای ولسی جرگه یکی از مواردی است که باعث انتقاد بر این نهاد شده است. بیشتر اوقات اعضای این مجلس بدلیل مصروفیت‌های شخصی خود به جلسات عمومی حاضر نمی‌شوند و نظر به بعضی گزارش‌ها نماینده‌گانی نیز وجود دارد که در ده‌ها جلسهٔ عمومی مجلس اشتراک نکرده‌اند و یا هم غیر حاضر دایمی اند.[12]

از سوی دیگر، در حالی‌که رخصتی‌های زمستانی و تابستانی اعضای شورا ملی باید بیشتر برای سفر به ولایات مربوطه و شنیدن مشکلات موکلین شان سپری شود؛ اما بیشتر اعضای پارلمان رخصتی خویش را با فامیل‌های شان در خارج از کشور سپری می‌کنند.

تمدید زمان کاری شورای ملی کنونی تا هشتمین سال تقنینی و سومین سال امتیازی-غیرقانونی، نیز نه تنها اینکه مشروعیت ولسی جرگه را زیر پرسش قرار داده بلکه برخی اعضای این ارگان نیز به گونهٔ درست و به شکل سابق به کار شان ادامه ندادند و از این سال‌ها به عنوان فرصتی برای منافع شخصی شان استفاده کردند.

[12] هشت صبح: "غیرحاضری و کلا بیشتر از حاضری شان است"، ۲ دلو ۱۳۹۵هـ ش:
/https://8am.af/x8am/1395/11/02/lawyers-absence-parliament

رویارویی اعضای ولسی جرگه با حکومت و موجودیت گروه‌هایی در داخل پارلمان که به دلیل منافع غیر ملی موقف‌گیری می‌کنند و از مصئونیت شورای ملی استفاده می‌کنند، مشکلی است که راه را برای فساد برخی اعضای پارلمان هموار کرده است.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com